بسم الله الرحمن الرحیم

# د تعویذ حکم

پی ډی ایف ترتیب کونکے

عالمزیب الحنفی

Scanned by CamScanner

الحمد لله وحده والصلوة والسلام على من لانبي بعده.

امابعد :

عن ابي هريرة قال قال رسول الله ﷺ ما انزل الله داءً الا انزل له دواءً (رواه البخاري ، مشكوة كتاب الطب والرقى، اول حديث).

رسول الله ﷺ فرمايي چې: الله تعالى د هر مرض لپاره دوا رالېږلې ده ، نو دهر مرض علاج موجود دى ، لكن دبعضو مرضونو علاج دموجود والي سره سره معلوم هم دى او دبعضو مرضونو علاج لاتر اوسه پورې معلوم نه دى.

دبحث څخه مخكې درې خبرې تمهيداً واورئ:

اوله تمهيدي خبره: أسباب په درې قسمه دي (1) أسباب قطعيه (2) أسباب ظنيّه (3) أسباب وهميه.

اسباب قطعيه : يعنې هغه أسباب چې په عادت كې په هغوي باندې دمسبباتو ترتب يقيني وي، لكه په اور باندې سوزيدل ، په ډوډۍ باندې

Scanned by CamScanner

مرېدل، په اوبو باندې دتندې ماتيدل،

اسباب ظنيه: يعنې هغه اسباب چې په عادت کې په هغوي باندې دمسبباتو ترتب اکثري او د ظن غالب په مرتبه کې وي، اکثر دواياني اوعلاجونه او بعضې عمليات په دې قسم کې داخل دي، همدارنگې په احاديثو او په اثارو کې راغلی دمونه او تعويذونه هم په دې قسم کې داخل د ي او دې منصوصي عملياتو ته مو اسباب ظني ځکه وويل چې دا أکثر په اخبارو احادو کې راغلي دي .

اسباب وهميه : يعنې هغه أسباب چې په عادت کې په هغوي باندې دمسبباتو ترتب يقيني هم نه وي او دظن غالب په مرتبه کې هم نه وي بلکه کله کله ورباندې ثمره مرتبيږي او اکثر معلومات نه کيږي چې ثمره ورباندې مرتبه شوه اوکه نه ؟ اکثر دمونه او تعويذونه په دې قسم کې داخل دي اوبعضې په دوهم قسم کې داخل وو کما مرّ .

داسبابو قطعيه وو حکم: ددې اسبابو استعمال واجب دی، مثلا يو سړی وږی دی او په عادت

Scanned by CamScanner

کې دا خبره یقیني ده چې ولړه د ډوډی، په وجه ختمیږي، لکن که داسړی بیا هم ډوډی، ونه خوري اومړ شي نو دا ګناهګار دیؤ ځکه چې واجب یې پرېښودلو.

داسبابو ظنیه ووحکم: ددې اسبابو استعمال په عامو حالاتو کې اولٰی دی، البته واجب نه دی، خلاصه دا چې د اسبابو ظنیه وواستعمال جایز دی ، دکمال توکل سره هم منافي نه دی او دنفس توکل سره هم منافي نه دی ځکه توکل دېته وایي چې یو سړي اسباب استعمال کړي، لکن موثر حقیقي یې ونه ګڼي ، بلکه د ا عقیده وساتي چې په دې اسبابو کې که دالله تعالی اراده وشي اثر اچوي اوکه الله تعالی اراده د نه اچولولووکړي نو اثر په کې نه اچوي .

خپله رسول الله ﷺ هم خپل علاج کړی دی او امت ته یې هم ددې تعلیم ورکړی دی، په یو حدیث کې راځي چې (فتداووا عبادالله )

البته که چا دا اسباب استعمال نه کړل نو

Scanned by CamScanner

گناهګار يږي نه ، په بعضې مؤمنانو باندې دتوکل
يوه خاصه غلبه وي، چې دا قسم اسباب نه
استعمالوي، لکه يوه بي بي رضى الله عنها چې
نبي ﷺ ته راغله او دمرګيو شکايت ئې ورته وکړو،
نبي ﷺ ورته وفرمايل چې ستا خوښه، که غواړې
نو ستا لپاره به دشفاء دعاوکړم او که خوښه دې
وي نو صبر وکړه الله تعالى به په بدله کې جنت
درکړي هغې بي بي وفرمايل چې يارسول الله ﷺ
صبر به وکړم، خو دعا راته وکړه چې الله تعالى مې
عورت نه ښکاره کوي نبي ﷺ ورته دعا وکړه (بخاري
کتاب المرضى فصل من يصرع من الريح)
داسباب وهميه ووحکم : داسبابو وهميه وو
استعمال جايز دى، دنفس توکل سره مخالف نه
دى، البته دکمال توکل سره مخالف دى .
په دې ټولو اسبابو کې دجواز لپاره شرط دا دى
چې دشريعت سره به مخالف نه وي، په اسبابو
قطعيه ووکې دحرام خوراک استعمال حرام دى،
په اسبابو ظنيه ووکې دحرامې دوائي استعمال

Scanned by CamScanner

حرام دی ، او په اسبابو وهميه ووكې دشريعت
څخه مخالف الفاظ لوستل اوليكل حرام دي.

داسباب وهميه وو لپاره يوڅو مثالو نه : په
عربانو كې په عمومي طريقه باندې دطب رواج
نه وو، اكثر اعتماد به يې په وهمي علاجونو او
دسيلانيانو په خبرو باندې وو، دجاهليت دزمانې
څخه چې په عربانو كې دكومو علاجونو رواج وو
په هغوي كې دبعضو ذكر په احاديثو كې راغلی
دی، په هغو وهمي علاجونو كې يو ته (كيّ) وايي،
يعنې وسپنه به يې په اورباندې گرمه كړه او په
جسم باندې به يې لگوله ، همدارنگه يو بل علاج
ته (استرقاء) وايي، يعنې ددم طلبول، په عربانو
كې دمختلف قسم دمونو رواج ووبعضې به په
شركي الفاظو باندې مشتمل وونبي ﷺ ددې قسم
دم څخه منعه وكړه او بعضې نور چې په شركي
الفاظو باندې مشتمل نه وونو دهغې اجازت يې
وركړو او وېفرمايل چې (من استطاع منكم أن ينفع
أخاه فلينفعه (رواه مسلم، مشكوة، كتاب الطب

Scanned by CamScanner

نمبر17 )

دچا چې  په تاسو کې وس رسيږي چې خپل ورور
ته نفع ورسوي نو نفعه دې ورته ورسوي، نبي ﷺ
دجاهليت دزماني هغو دمونه ته اجازت ورکړو چې
هغه په شركي الفاظو باندې مشتمل نه وو،حالانكه
دهغوي مضمون په قران او په حديث كې نه
وو راغلى، نو ددې څخه دا واضحه شوه چې په
دمونو او په تعويذونو  کې دا لازمه نه ده چې ددې
مضمون به په قران او ياپه حديث كې ذكر شوى
وي .

الحاصل: داسبابو وهميه وواستعمال جايز دی،
دنفس توكل سره منافي نه دی، البته دكمال
توكل سره منافي دی رسول الله ﷺ په يو ځاى
كې فرمايي چې: (من استرقى او اكتوى فقد برئ
من التوكل) چا چې دمونه او يا داغونه ولګول نو
دتوكل څخه بيزاره شو، همدارنګه په بل حديث
كې راځي چې زما په امت كې به اويازره كسانو
ته دا اعزاز ميلاويږي چې بې حسابه به جنت ته

ځي (هم الذين لايکتوون ولايسترقون ولايتطيرون وعلی ربهم يتوکلون) دا هغه خلک دي چې داغونه نه لګوي، ددمونو پسې نه ګرزي او بدپالي نه کوي او پخپل رب باندې توکل کوي، حالانکه نبي  پخپله داغونه لګولي دي او خلکو ته يې ددمونو امرهم کړې دی، نو معلومېږي دا چې دمونه اوداغونه دنفس توکل سره منافات نه لري، بلکه دکامل توکل سره منافي دی، دکوم په وجه چې انسان ته دا خصوصي اعزار ورکول کيږي چې بې حسابه به جنت ته ځي او داهم معلومه شوه چې دکمال توکل سره بعضې دمونه منافي دی او بعضې نه دي، يعنې کوم دمونه چې داسباب وهميه وو لاندې راځي دا قسم دمونه ورسره منافي دي، اوکوم چې داسبابو ظنيه وو لاندې راځي هغه ورسره نه دي منافي.

نو دا يادلرئ چې مونږ چې دا ويلي دي چې دمونه اوتعويذونه په اسبابو وهميه ووکې داخل دي نو دا مو داکثريت په اعتبار سره ويلي دي ،

Scanned by CamScanner

دبعضو خلکو په دمونو او په تعويذونو باندې چې اکثر ثمره مرتبيږي نوهغه په اسبابو ظنيه وو کې داخل دي، همدارنگه کوم دمونه او تعويذونه چې په احاديثو او په آثارو کې راغلی دي هغه هم په اسبابو کې ظنيه ووکې داخل دي او اسباب يقينيه ځکه نه دي چې دا اکثر په أخباراحادو کې راغلي دي.

دوهمه تمهيدي خبره: هغه دمونه او تعويذونه چې په اسبابو وهميه ووکې داخل دي دا ولې دکامل توکل سره منافي دي؟

(1) داځکه چې دأسبابو قطعيه وواو دأسبابو ظنيه وونتيجه نسبتاً واضحه وي، يا انسان ته نتيجه په لاس ورځي او يا مايوسه کيږي، همدارنگه ډاکټر ورته کله اطمنان ورکوي او کله ورته رخصت ورکوي او داسبابو وهميه وونتيجه واضحه نه وي بلکه انسان په کې د(لاالی هؤلاء ولا الی هؤلاء) مصداق وي نه ورباندې زر نتيجه مرتبيږي او نه ترېنه انسان مايوسه کيږي، لدې وجې کله يو تعويذگر

Scanned by CamScanner

او دمگري ته ورځي او کله بله ته رسول الله ﷺ ځکه فرمايي چې (من تعلق شيئا وُکّلَ اليه)

(2) همدارنگه داسبابو قطعيه وواو داسبابو ظنيه ووپه استعمال کې اکثرا داسې وي چې عقيده دتأثير په کې څوک نه ساتي بلکه عام خلک په کې مؤثر الله تعالی گڼي، دوائي او ډاکټر ته څوک مؤثر نه وايي، له دې وجې ډاکټر ته خلک ديو مزدور په نظر باندې گوري او دومره احترام يې نه کوي لکه څومره چې ددمگري او دتعويذگر کوي ،او داسبابو وهميه وو په استعمال کې داکثرو خلکو دحالاتو څخه داسې معلوميږي لکه دمگری او تعويذگر ته چې مؤثر وايي له دې وجې يې پښې او لاسونه ښکلوي، چې تعويذ ورته وکړي او اثر ونه کړي نو بيا ورته نور عجز او نياز شروع کړي ، حالانکه دلاسونواو دپښو ښکلول اگر چې ددين له وجې جايز دي لکن دلته خو دده معامله ددنيا ده، ځکه چې دونيوي علاج ترېنه کوي له دې وجې اکثر دمونه او تعويذونه په اسبابو وهميه

ووکې داخل کړي شوي دي .

دریمه تمهیدي خبره : دمونه اوتعویذونه په دوه قسمه دي یو قسم هغه دي چې صراحةً په احادیثو او په اثارو کې راغلي دي ، داقسم دمونه او تعویذونه ددین دتعلیماتو یوه حصه ده .

دوهم قسم هغه دمونه اوتعویذونه دي، چې صراحةً په أحادیثو او په أثارو کې نه وي راغلي، هغه ددین مسئله نه ده اونه دنبوي ﷺ تعلیماتو حصه ده اگر چې قرأني الفاظ په کې تلاوت کولی اویا لیکلي شي، بلکه داقسم دمونه او تعویذونه دعامو علاجونو په شان دخلکو تجربې دي، چې کله صحیح وي او کله غلطې ثابتې شي ، بعضې خلک په دې غلط فهمۍ کې مبتلی دي چې دا دویم قسم دمونه او تعویذونه ددین مستقله حصه گڼي او دا گمان کوي چې څوک په دین باندې پوهیږي او عالم وي هغه به په دې عملیاتو باندې هم پوهیږي، حالانکه دا غلطه خبره ده، ځکه چې ډېرداسې دمونه ووچې صحابه ووکرامو

Scanned by CamScanner

ته به یاد وواو نبي ﷺ ته به نه وویاد، بلکې هغوي به
چې کله نبي ﷺ ته تیرول نو نبي ﷺ به دبعضو اجازت
ورکولو او دبعضو څخه به یې منعه کوله، حضرت
جابر ﷺ فرمایي چې نبي ﷺ ددم څخه منع وکړه، نو
دعمرو بن حزم دخاندان خلک نبي ﷺ ته راغلل او
عرض یې وکړه چې (یارسول الله انه کانت عندنا
رقیة نرقی بها من العقرب وانت نهیت عن الرقی)
زمونږ سره دلړم یو دم دی څوک به چې لړم
چیچلی وومونږ به وربانديږ دمولو او تا ترېنه منع
کړی ده نبي ﷺ ورته وفرمایل چې ماته خپل دم
تیر کړئ (فعرضوها علیه فقال ما أری به بأسا من
استطاع منکم ان ینفع اخاه فلینفع ) هغوئ چې
خپل دم نبي ﷺ ته تیر کړو نو نبي ﷺ ورته وفرمایل
چې ستا سو په دې دم کې خو څه نقصان نشته د
چاچې وس رسیږي چې خپل ورور ته نفع ورسوی
نو ورته دې ورسوي (رواه مسلم، مشکوة کتاب
الطب 17 حدیث )
همدارنگه حضرت شفاء بنت عبد الله ﷺ ته رسول

Scanned by CamScanner

الله ﷺ وفرمایل چې لکه څرنګه چې ته حضرت

حفصې ؓ ته لیک او لوست ور زده کوی نو

همدارنګه دنملې دم هم ورته ورزده کړه ،(مشکوة

کتاب الطب نمبر 48 )معلومیږي دا چې دنملې دم

حضرت شفاء بنت عبدالله ته یاد وواو نبي ﷺ ته نه

ووملعوم کنه نو نبي ﷺ به پخپله حضرت حفصې ؓ

ته خودلی وو.

همدارنګه بعضې خلک دمونه او تعویذونه دتصوف

او دسلوک یوه حصه ګڼي، حالانکه دعملیاتو

د تصوف او دسلوک سره هم هیڅ تعلق نشته،

ځکه چې دتصوف مقصد دا دی چې دانسان

ظاهر او باطن دشریعت سره مطابق شي، خصوصاً

چې دباطني امراضو څخه پاک شي، لکه خراب

اخلاق، کبر، او حسد، وغیره او اخلاق حمیده يې

په زړه کې پیدا شي لکه محبت، توکل ، تواضع

وغیره اګر چې یو د م او تعویذ يې هم نه وي یاد،

خلاصه دا چې صوفیان کاملان وي او دمګري او

تعویذګران عاملان وي ، او هرکامل عامل نه وي

Scanned by CamScanner

همدارنگه هر عامل کامل نه وي، بلکه بعضې وي او بعضې نه وي.

## دعملیاتو احکام

دعملیاتو یعنې ددمونو او دتعویذونو په باره کې ظاهراً درې قسمه احادیث په نظر راځي.

اول قسم احادیث: اول قسم هغه احادیث دي په هغې کې ددمونو او دتعویذونو څخه منعه راغلې ده، مثلا لاندې احادیث وګوره.

(1) وعن زينب امرأة عبد الله بن مسعود ﷺ ان عبد الله رأى في عنقى خيطا فقال ماهذا؟ فقلت خيط رقى لي فيه ، قالت فاخذه فقطعه ، ثم قال انتم أل عبد الله لاغنياء عن الشرک سمعت رسول الله ﷺ يقول (ان الرقى والتمايم والتولة شرک) فقلت لم تقول هکذا ؟ لقد کانت عيني تقذف وکنت اختلف الى فلان اليهودي فاذا رقاها سکنت ، فقال عبد الله انما ذلک عمل الشيطان کان ينخسها بيده فأذارقى کف عنها انما کان يکفيک ان تقولي کما

Scanned by CamScanner

كان رسول الله ﷺ يقول اذهب الباس ، رب الناس
واشف انت الشافي ، لاشفاء الا شفاءک شفاء
لايغادر سقما (رواه ابوداود ، مشکوة کتاب الطب
والرقی، حدیث نمبر 39)

دعبدالله بن مسعود ﷺ بي بي حضرت زينب ﷺ
فرمايي چې يوه ورځ حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ
زما په غاړه کې يو بند وليدلو ، نو راته يې وفرمايل
چې دا څه شی دی ؟ ما ورته وويل چې دا بند دی
او دم راته په کې اچولی شوی دی، نو عبد الله
بن مسعود ﷺ راته وشکولو او راته ويفرمايل چې ای
دعبد الله بن مسعود ﷺ خاندانه! تاسوته دشرک
ضرورت نشته، ما دنبي ﷺ څخه اورېدلي دي، چې
دمونه، تعويذونه او دمحبت تعويذ شرک دی ،
ماورته وويل چې ته څرنگه دا خبره کوي؟ حال
دا چې زما سترگو به چخښې کولی نو زه فلانکي
يهودي ته ورتلم هغه به چې دم کړم نو روغه به
شوم ، عبد الله بن مسعود ﷺ راته وفرمايل: چې: دا
دشيطان کار وو، هغه به ستا سترگې چوخولې کله

Scanned by CamScanner

به چې يهودي دم کړي نو شيطان به د چوخولو
څخه ځان بند کړو ستا لپاره دا بس ووچې داسې
دی ويلی وي، لکه څرنگه به چې نبي ﷺ ويل چې
اذهب الباس ، الحديث .

(2) عن عبد الله بن عمرو ؓ قال سمعت رسول
الله ﷺ يقول ما أبالي ماأتيت ان أنا شربت ترياقا أو
تعلقت تميمة أو قلت الشعر من قبل نفسي (رواه
ابو داود ، مشكوة، كتاب الطب والرقی حديث
41 )

دحضرت عبد الله بن عمروؓ څخه روايت دی چې
نبي ﷺوفرمايل: چې ددې دريو (بدو) کارونو په
کولو کې ماته فرق نشته، چې ترياق وخورم او يا
تعويذ په غاړه کې واچوم او يا دخپل طرف څخه
شعر ووايم .

(3) عن المغيرة بن شعبة قال قال النبي ﷺمن
اکتوی او استرقی فقد بریئ من التوکل (رواه
احمد ، والترمذي وابن ماجه ، مشکوة، کتاب الطب
والرقی، حديث 42 )

Scanned by CamScanner

رسول الله ﷺ فرمايي چاچې د داغ په ذريعه علاج وکړو او يا يې طلب ددم وکړو نو په تحقيق سره دتوکل څخه بېزاره شو .

(4) وعن عيسى بن حمزة قال دخلت على عبد الله بن حكيم وبه حمرة فقلت الاتعلق تميمة؟ فقال نعوذ بالله من ذلک، قال رسول الله ﷺ من تعلق شيئا وكل اليه ، (رواه ابو داود ، مشكوة كتاب الطب والرقى، حديث نمبر 43 )

عيسى بن حمزة ﷺ فرمايي چې زه عبدالله بن عكيم ﷺ ته ورغلم په داسې حال کې چې دده بدن سور شوی وو، نو ماورته وويل چې تعويذ ولې نه أچوئ ؟ هغه راته وويل چې الله تعالى ته پناه نسيم، رسول الله ﷺ فرمايي چې چاچې کوم شي (تعويذ) په غاړه کې واچولو نو همدې ته به ورحواله کړې شي.

دوهم قسم احاديث: دوهم قسم هغه احاديث دي چې دهغوي څخه د دمونو او دتعويذونو جواز رامعلوميږي.

Scanned by CamScanner

ددمونو په باره کې یو څو احادیث:

(1) وعن انس  قال رخص رسول الله  فی الرقیة من العین والحمة والنملة ، رواه مسلم مشکوة کتاب الطب، حدیث نمبر 13 )

رسول  الله  دنظر ، دکوم زهر یله شي دچیچلو او د نمَلِی یعنې دشري لپاره ددم اجازت ورکړی دی ، دا درې یې دحصر لپاره نه دي ذکر کړي، بلکه ددې له وجې یې ذکر کړي دي ، چې ددې دریو بیماریانو لپاره په هغه وخت کې کوم طبي اوطبعي علاج نه وو، دنورو مرضونو لپاره هم ددمونو ذکر راغلی دی، په را روانو حدیثونو کې یې وګوره .

(2) عن عائشة قالت  امرالنبي  ان نسترقی من العین (منتفق علیه ، مشکوة، کتاب الطب حدیث نمبر 14) حضرت عائشة  فرمایي چې نبي  مونږ ته امر وکړو چې دنظر لپاره دم وکړو .

(3) وعن ام سلمة  ان النبي  رأی في بیتـها جاریة في وجـهها سفعةٌ ، یعنـې صفرة فقال استرقوا لها فان بها النظرة ، (متفق علیه ، مشکوة

Scanned by CamScanner

كتاب الطب والرقى، حديث نمبر 15)

حضرت ام سلمة  فرمايي چې رسول الله  دام سلمې  په كور كې يوه وينځه وليدله چې دمخ رنګ يې دمريضۍ له وجې متغير شوى وو، نو روسول الله  وفرمايل چې دا دم ګړئ دا نظره شوى ده .

(4) وعن جابر  قال نهى رسول الله  عن الرقى فجاء أل عمرو بن حزم ، فقال يا رسول الله  انه كانت عندنا رقية نرقى بها من العقرب وانت نهيت عن الرقى فعرضوها عليه ،فقال ما أرى بها بأسا ، من استطاع منكم ان ينفع اخاه فلينفعه (رواه مسلم، مشكوة، كتاب الطب والرقى، نمبر 17)

حضرت جابر فرمايي چې نبي  ددمونو څخه منعه وکړه نو دعمرو بن حزم دخاندان خلک راغلل او عرض يې وکړو چې يارسول الله  زمونږ سره يو دم وو مونږ به دلړم څخه وربانديې خلک دمول او تا سو ددم څخه منعه کړې ده، بيا يې ورته خپل دمونه تيرکړل، نبي  ورته وفرمايل چې

Scanned by CamScanner

ستاسو په دمونو کې څه حرج نشته، په تاسو کې چې دچا وس رسیږي چې خپل ورورته نفع ورسوي نو ودې یې رسوي .

(5) وعن عمران بن حصين ⊠ ان رسول الله ⊠ قال لارقية الا من عين او حمة (رواه احمد والترمذي ، مشكوة، كتاب الطب ،رقم 44 )

رسول الله ⊠ وفرمایل چې: صرف ددې دوو مرضونو لپاره دمونه دي، یو دنظر لپاره او بل دزهریله شي دچیچلو لپاره .

(6) وعن انس ⊠ قال قال رسول الله ⊠ لارقية الا من عين اوحمة او دم (رواه ابوداود ، مشكوة كتاب الطب 46 )

رسول الله ⊠ فرمایي چې: صرف ددې دریو مرضونو لپاره دمونه دي، یو دنظرلپاره ، دوهم دزهریله شي دچیچلو لپاره، دریم دویني یعنې ددانو وغیره لپاره.

(7) وعن الشفاء بنت عبد الله قالت دخل رسول الله ⊠ وانا عند حفصة فقال الاتعلمين هذه رقية

Scanned by CamScanner

النملة كما علمتيها الكتابة (رواه ابو دواد ، مشكوة
كتاب الطب والرقى حديث نمبر 48 )

حضرت شفاء بنت عبد الله فرمايي چې: زه دام المؤمنين حضرت حفصې￼ سره وم چې نبي ￼ راغلو نو وېفرمايل چې: ته حضرت حفصې￼ ته دنملې (شري) دم ولې نه ورښايې لكه څرنگه دې چې ليكل ورښودلي دي؟ په يوروايت كې راځي چې حضرت شفاء رسول الله ￼ ته وفرمايل چې : (انى كنت أرقى برقى الجاهلية ) لكن بيا هم نبى كريم ￼ اجازت وركړو، ددمونو په باره كې دومره ډېر احاديث راغلى دي چې د ټولو د راجمعه كولو څخه يوغټ كتاب جوړيږي .

دتعويذونو په باره كې يو څو احاديث او اثار

(1) دحضرت عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما څخه روايت دى چې هغوي دنبي ￼ دا ارشاد را نقل كړو چې څوک چې په خوب كې ډاريږي نو دا دعا دې ووايي چې: (اعوذ بكلمات الله التامات من غضبه وعقابه وشرعباده ومن همزات

Scanned by CamScanner

الشياطين وأن يحضرون)

رواي فرمايي چې عبد الله بن عمرو  دخپل کور پوهو خلکوته دا دعا په یاد وربښودلې وه او وړو بچیانو ته یې لیکلې وه او په غاړه کې یې ورته أچولې وه (سنن ابي داود حدیث نمبر 3893 باب کیف الرقی ، جامع الترمذي حدیث نمبر 3528 ، مشکوة، باب الاستعاذة، الفصل الثاني)

دامام بخاري استاذ ابن ابي شیبه په خپل مصنف کې باب لګولی دی په نوم د(من رخص في تعلیق التعاوید) ددې باب لاندې یې ډېر اثار رانقل کړي دي یو څو یې لاندې ولولئ .

۲-حدثنا عقبة بن خالد، عن شعبه، عن ابی عصمة، قال سألت سعید ابن المسیب عن التعویذ؟ فقال لا بأس اذا کان في ادیم، رقم الحدیث (۲۳۰۰۹).

ترجمه: سعید ابن مسیب رحمه الله فرمایي چې تعویذ چې په څرمنه کې وي نو پروا نه کوي.

۳- حدثنا ابن نمیر، عن عبد الملک، عن عطاء

Scanned by CamScanner

فى الحائض يكون عليها التعويذ قال ان كان في اديم فلتنزعه وان كان في قصبة فضةٍ فان شائت وضعته وان شائت لم تضعه، رقم الحديث (۲۳۰۱۰).

ترجمه:حضرت عطاء بن رباح رحمه الله فرمايي چې که تعويذ په څرمنه کې بند وو نو حائضه ښځه به يې لرې کوي او که دسپينو زرو په ډبي کې وي نو بيا يې خوښه ده چې لرې کوي يې او که نه يې لرې کوي.(قال شيخنا الاعظمى رحمه الله القصبة كل عظم أجوف فيه مخ، والمراد هنا: ما صنع من الفضة مثل ذلک العظم ، ويجعل فيه التعويذ مكان المخ فى العظم)

۴- حدثنا وكيع، عن اسرائيل، عن ثُوير، قال كان مجاهد يكتب للناس التعويذ فيعلقه عليهم رقم الحديث (۲۳۰۱۱).

ترجمه : اما مجاهد رحمه الله به خلکو ته تعويذ ليکلو او غاړو ته به يې اچولو.

۵- حدثنا عبيد الله عن حسن عن جعفر عن أبيه

Scanned by CamScanner

أنه كان لايرى بأسا أن يكتب القرآن في أديم ثم يعلّقه، رقم الحديث (۲۴۰۱۲).

ترجمه:حضرت جعفر رحمه الله دخپل پلار څخه روايت کوي چې په دې کې باک نشته چې قرآن وليکې او په څرمنه کې يې بند کړئ او په غاړه کې يې واچوې.

حدثنا عبدالرحيم بن سليمان عن اسماعيل بن مسلم عن ابن سيرين انه كان لايراى بأسا بالشي من القرآن (يعنى بتعليقه) رقم الحديث (۲۴۰۱۳).

ترجمه:ابن سيرين رحمه الله فرمايي چې دقرآن کريم دځه حصې په غاړه کې اچولو کې باک نشته .

(4) حدثنا يحيى بن ادم قال حدثنا حسن عن ليث عن عطاء قال لا بأس ان يعلّق القرآن رقم الحديث (۲۴۰۱۵).

ترجمه:حضرت عطاء ابن ابى رباح رحمه الله فرمايي چې دقرآن کريم ليکل او په غاړه کې

Scanned by CamScanner

اچول پروا نه لري.

(5) حدثنا يحيى بن ادم، عن أبان بن تغلب، عن يونس بن خباب، قال سألت ابا جعفر عن التعويذ يعلق فرخص فيه، رقم الحديث (٢٤٠١٦).

ترجمه : حضرت ابو جعفر رحمه الله فرمايي چې تعويذ ليکل او ماشوم ته يې په غاړه کې اچول جايز دي .

(6) حدثنا اسحاق الازرق عن جويبر عن الضحاك لم يكن يرى بأسا ان يعلق الرجل الشيء من كتاب الله اذا وضعه عند الغسل وعند الغائط، رقم الحديث (٢٤٠١٧).

ترجمه : حضرت امام ضحاک رحمه الله فرمايي چې دقرآن کريم ليکل او په غاړه کې اچول گناه نه لري کله يې چې داودس ماتي او دغسل په وخت لرې کوي.

دريم قسم احاديث: دريم قسم هغه احاديث دي چې دهغوي په وجه په مخکېنو دواړه قسمه احاديثو کې تطبيق راځي.

Scanned by CamScanner

(1) وعن عوف بن مالك الاشجعي ؓ قال كنا نرقى في الجاهلية فقلنا يارسول الله ﷺ كيف ترى في ذلک ؟ فقال اعرضوا علىّ رقاكم لابأس بالرقى ما لم يكن فيه شرک . (رواه مسلم ، مشكوة كتاب الطب ،

حضرت عوف بن مالک ؓ فرمایي چې مونږ به دجاهلیت په زمانه کې دمونه کول، بیا مو دنبي ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې تاسو ددې په باره کې څه وایي ؟ نبي ﷺ وفرمایل چې ماته خپل دمونه بیان کړئ، په دمونو کې حرج نشته ترڅو چې په کې شرک نه وي.

(2) په صحیح ابن حبان کې باب لګیدلی دی په نوم د: ذکر الخبر الدال علی ان الرقی المنهی عنها انما هی الرقی التی یخالطها الشرک دون الرقی التی لایشوبها شرک ، (ج 13 صـ 158 )

باب دي په ذکر دهغه خبرکې چې هغه په دې باندې دلالت کوي چې ممنوع هغه دمونه دي چې شرک په کې ورګډ شوی وي، هغه دمونه نه دي

Scanned by CamScanner

ممنوع چې شرک په کې نوي ورګډ شوی .

ددې باب لاندې يې دحضرت ابن حثمه ؓ حديث ذکر کړی دی چې دده والدې ؓ به دجاهليت په زمانه کې دمونه کول بيا يې د رسول الله څخه ددې په باره کې پوښتنه وکړه، نبي ﷺ ورته وفرمايل چې: (ارقى مالم يكن فيه شرک)

يعنې دشرک څخه بغير نور دمونه کوه، په عملياتو کې شرک په دوو طريقو راځي، يو دا چې ددم او دتعويذ مضمون په شرک باندې مشتمل وي، دوهم دا چې دم او ياتعويذ مؤثر لذاته وګڼې، ځکه چې مؤثر حقيقي دالله تعالى ذات دی ، محدث ابن حبان په کتاب الرقى والتمايم کې فرمايي چې: (العلة فى الزجر عن الاکتواء والاسترقاء هى ان اهل الجاهلية کانو يستعملونها ويرون البرء منها من غير صنع الباري جل وعلى فيه، فاذا کانت هذه العلة موجودة کان الزجز قائما عنها واذا استعملها المرء وجعلهما سببين للبرء الذي يکون من قضاء الله دون ان يرى ذلک

Scanned by CamScanner

منهما كان ذالک جائزا . (صحيح ابن حبان ج 13 صـ454 )

الحاصل: (1) که دمونه اوتعويذونه په شرکي مضمون باندې مشتمل نه وو او مؤثر حقيقي دې ونه ګڼل. بلکه دعامو علاجونو په شان دې دسبب په مرتبه کې وګڼل نو بيا داسې دمونه اوتعويذونه جايز دي .

(۲) په کومو احاديثو کې چې دخاصو خاصو مرضونو لپاره ددم ذکر راغلی دی، هلته مراد حصر حقيقي نه دی بلکه حصر اضافي او يا اهتمام وغيره مراد دی، ځکه چې دجواز او دعدم جواز لپاره علت دمرضونو خصوصيتونه نه دي، بلکې علت ورته عدم اشتمال په شرک او اشتمال په شرک باندې دی، که حصر حقيقي مراد شي نو بيا به پخپله داحاديثو په مابين کې تعارض راشي، مثلا دعمران بن حصين ؓ په حديث کې صرف ددوو مرضونو ذکر دی، دحضرت انس ؓ په حديث کې د دريو مرضونو ذکر دی، دحضرت جابر ؓ په

Scanned by CamScanner

حديث کې دلړم ددم ذکر دی او دحضرت شفاء
بنت عبد الله ﷺ په حديث کې بيا دنملې لپاره ددم
ذکر دی وهکذا .
(4) په دمونو او په تعويذونو کې دا شرط نه دی
چې مضمون به يې صراحةً په قرآن او يا په حديث
کې ذکر شوی وي، بلکه صرف دومره خبره کافي
ده چې شرک به په کې نه وي، لکه تاسو چې په
تيرو احاديثو کې وليدل چې نبي ﷺ دجاهليت د
زمانې دمونو ته هم په دې شرط باندې اجازه ورکړه
چې شرک په کې نه وي ، دمشکوة په کتاب الطب
والرقی کې دحضرت شفاء رضی الله عنها حديث
دی چې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې حضرت
حفصې رضی الله عنها ته دخط سره دشري دم
هم ورښايه ، حافظ ابن حجر په الاصابه کې او
ابن عبد البر په استيعاب کې دحضرت شفاء په
حالاتو کې دهغې دم الفاظ رانقل کړي دي ، لکن
دبعضې الفاظوپه صحيح تلفظ او معنی باندې
زه پوه نه شوم الفاظ دادي «بسم الله صلو صلب

Scanned by CamScanner

جبر، تعوّذا من افواهها فلا تضر احدا، ا لله اكشف البأس رب الناس» دکُرکُم ( یعنی زعفران) په لرگي باندې به یې دا کلمات او ه ځلې ولوستل او دم به یې کړلو ، بیا به یې دا لرگي په یوه تیگه باندې کینبودلو دشرابو سرکه به یې په دې لرگي باندې واچوله بیا به یې هغه لرگی په مریض باندې مږلو.

په تعویذونو کې دیا بدوح لیکل

بدوح په عبرانی ژبه کې دالله تعالی نوم دی او په تعویذاتو کې داسماء الله لیکل جایز دی ، لهذا په تعویذاتو کې دیا بدوح لیکل جایز دی ، لما قال العلامه متفی محمد شفیع: ما دخپل استاذ علامه محمد انور شاه الکشمیري څخه اوریدلي دي چې دبدوح لفظ ددال له تشدید پرته په عبرانی ژبه کې دالله تعالی نوم دی ، (عزیز الفتاوی المعروف به ، فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱صـ ۱۳۹ ) وامداد المفتیین المعروف به فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲صـ ۲۳۸ ) کتاب الکراهیة فتاوی حقانیه ج ۲صـ ۱۹۸ ، باب التداوی)

Scanned by CamScanner

## په غیر مسلم باندې ځان دمول او یا ترېنه تعویذ غوښتل

دامام مالک □ څخه منقول دي چې هغه په اهل کتابو باندې دځان دمولو ته مکروه ویلي دي، لکن دامام مالک □ یو شاګر د ابن وهب□ او امام شافعي □ ورته جائز ویلي دي، معرفة السنن والاثار بهیقي ج 14 صـ 120 ) دوي دحضرت ابو بکر صدیق □ دیو اثر څخه استدلال کړی دی، کوم چې امام مالک په خپل موطأ رقم 3472 کې او د امام بخاري استاذ ابن ابي شیبه په خپل مصنف کې ج 5 صـ 47 ) کې ذکر کړی دی چې یوه ورځ حضرت عائشه □ مریضه وه او یوې یهودۍ ښځې دموله حضرت ابوبکر صدیق □ دې یهودۍ ته وفرمایل چې دالله تعالی په کتاب باندې یې دموه، عام شارحین فرمایي چې دحضرت ابوبکر □ مراد دکتاب الله څخه تورات وو، ځکه چې یهودو عموماً په تورات باندې خلک دمول لکن محدث ابن حبان □ یې دا معنی بیانوي چې د ابو بکر

Scanned by CamScanner

صدیق ﷺ مطلب دا ووچې په داسې الفاظو باندې
یې دموه چې دکتاب الله یعنې دقرآن له نظره
مباح وي (ابن حبان ج 13 صـ 464 )
نو په غیر مسلمو باندې ددمولو په باره کې دوه
قوله شو، یو قول دکراهت او بل دجواز، لکن
ددې دواړو په مابین تعارض نشته، ځکه چې ابن
عبدالبر ﷺ په الاستذکار ج 8 صـ 411 ) کې فرمایي
چې امام مالک ﷺ دکراهیت قول لدې وجې څخه
کړی دی، چې دغیر مسلم معلومات نه کیږي
چې دا په څرنګه الفاظو باندې دمول کوي؟ ددې
څخه معلومه شوه چې کومو حضراتو چې په غیر
مسلمو باندې دځان دمولو ته جائز ویلي دي نو دا
په هغه وخت کې دي، چې کله سړی مطمئن وي
چې دمونکي راباندې شرکي دم نه اچوي او کومو
حضراتو چې ورته مکروه ویلي دي نو دا په هغه
وخت کې دي چې کله اطمینان نه وي .
الحاصل: ددمګري په باره کې چې کله یقین او یا
غالب ګمان داوي چې په شرکي او ناجائز مضمون

Scanned by CamScanner

باندې دمول نه کوي نو بيا جايز دی، او کله چې يقين او يا ظن غالب او يا تردد ددې خبرې وي چې په شرکي اويا په ناجائز مضمون باندې دمول کوي نو بيا ناجائز دی همدارنگه دناجايز مقصد لپاره دم او تعويذ کول هم ناجايز دي ، لکه ددوو کسانو په مابين کې دتفريط او ددشمنی دجوړولو لپاره، دناجايز تسخير وغيره لپاره، حضرت تهانوي رحمه الله فرمايي چې دناجايز تسخير لپاره ځکه ناجايز دی چې په تعويذاتو کې معنوي فشار واردول وي، نو په کوم ځای کې چې ظاهري فشار واردول ناروا دي ، نو همدارنگه معنوي فشار واردول هم نا روا دي.

فا ئده: بعضې وهابيان دقرآن او دحديث دليل دومره نه مني لکه څومره چې دابن تيميه ؒ او دابن القيم ؒ خبره مني، لدې وجې به ددې دواړو يو يو عبارت رانقل کړو .

(1) حافظ ابن تيميه ؒ فرمايي چې: (ويجوز ان يکتب للمصاب وغيره من المرضى شيئا من کتاب

Scanned by CamScanner

الله تعالى وذكره، بالمداد المباح، ويغسل ويسقى، كما نص على ذلک احمد وغير)

يعنې جائزه ده چې دقرآن اويا دذکر الله څخه کوم شی په مباحه سیاهي باندې ولیکي او بیا يې وويڼځي او بيا يې په مريض باندې وڅښي ، امام احمد وغيره په دې باندې تصريح کړې ده ، ددې څخه وروسته ابن تیمیه  دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما يو اثر رانقل کړی دی چې که ښځې ته دولادت په وخت کې مشکل وو، نودا الفاظ ورته وليکي .

بسم الله لا اله الا الله الحليم الكريم ، سبحان الله رب العرش العظيم الحمدلله رب العلمين كانهم يوم يرونها لم يلبثوا الاعشية او ضحاها، كأنهم يوم يرون مايوعدون لم يلبثوا الاساعة من نهار بلاغ فهل يهلک الا القوم الفاسقون .

په يو روايت کې راځي چې دا الفاظ وويڼځه اوبيا دا اوبه دنوم څخه لاندې وشينده ، او په بل روايت کې راځي چې دا وليکه او دمټ پورې يې وتړه او

Scanned by CamScanner

دولادت څخه وروسته يې سمدستي لرې کړه، يو راوي فرمايي چې مابيا بيا ددې تجربه کړې ده، نو ددې څخه مې بهتر بل شی نه دی موندلی .

(فتاوی ابن تيميه ج 19 صـ 64 )

(2) ابن القيم ؒ په زاد المعاد ج 4 صـ 326 ) کې بعضې تعويذات رانقل کړي دي، يو تعويذ يې دامام احمد بن حنبل ؒ څخه رانقل کړی دی .

ايا په دم او په تعويذ کې فرق شته اوکنه ؟: نن سبا بعضې خلک وايي چې دمذکورو شرطونو موافق دمونه جائز دي لکن تعويذونه نه دي جايز او په دليل کې دحضرت عبد الله بن مسعود ؓ روايت پيش کوي چې (ان الرقی والتمايم والتِّوْلَة شرک)

لکن ددوي استدلال نه دی صحيح، ځکه چې

(1) تامخکې واورېدل چې دمنع لپاره اصل علت شرکي الفاظ دي هغه په دم کې وي او که په تعويذ کې وي (2) دعبدالله بن مسعود ؓ په حديث کې دتمايم لفظ دی اوتمايم تعويذونوته

Scanned by CamScanner

نه وايي بلکه دا يو خاص قسم مرى وى چې
دجاهليت په زمانه کې به خلکو ماشومانو ته په
دې گمان باندې په غاړه کې وراچولې چې دا
دسړي څخه مصيبتونه لرې کوي او دانسان په
عمر کې زيادت راولي، ابن قتيبه ؒ په تاويل
مختلف الحديث کې ليکي چې: (والتمايم خرز،
رقط، کانت الجاهليت تجعلها في العنق والعضد و
تسترقی بها، وتظن انها تدفع عن المرء العاهات
وتمد في العمر قال الشاعر.
اذا مات لم تفلح مزينة بعده فنوطى عليه يا مزين
التمايم، يقول علقي عليه هذا الخرز، لتقيه
المنية (صـ 466) قال الامام البغوی ابوالفتح
ناصر الدين المطرازی ؒ قال: القتيبي وبعضهم
يتوهم ان المعاذات هی التمايم وليس كذلک،
انما التميمة الخرزة، ولابأس بالمعاذات اذا كتب
فيها القرآن واسماء الله تعالى، المغرب فی ترتيب
المغرب ج ١ صـ ١٠٧) وهكذا فی رد المحتار، كتاب
الحظر والاباحة، فصل في اللبس، ومثله في نيل

Scanned by CamScanner

الأطار، باب ماجاء فی الأجرة علی الضرب .
امام طحاوي ﷺ دحضرت عائشي ﷺ قول رانقلوي
چې کوم تعويذ چې دمريضی څخه وروسته په
غاړه کې واچول شي هغه تميمه نه ده (شرح
معاني الاثار ، کتاب الکراهة ،باب الکی هومکروه
ام لا؟)

(3) په دې حديث کې خو يواځې دتمايمو ذکر
نه دی، بلکه د رقی يعنې ددم ذکر هم په کې
راغلی دی او درقی په باره کې په دې خبره اتفاق
دی چې ددې څخه منعه مطلقا نه ده، بلکه په
هغه صورت کې ده چې شرکي دمونه وي نو همدا
تفصيل په تمائمو کې هم دی .

په عملياتو کې دشيخ د اجازې حکم

د اورادو او دوظايفو په لوستلو کې دچا داجازې
ضرورت نشته ، البته که چيرته دشيخ اجازه وي
نو فيض او برکات نور هم پکې زياتيږي، (لما قال
العلامه السيوطی ، الاجازة من الشيخ غير شرط
فی جواز التصدی، للاقراء والأفاداة، فمن علم من

Scanned by CamScanner

نفسه الأهلية جاز له ذلک وان لم يجزه احد الخ )
الاتقان فی علوم القرآن ، الفصل الثالث فی کيفية
الأخذ بإفراد القراءة، وکذا قال العلامه جلال ابادی
الاجازة من الشيخ غير شرط فی جواز التصدی
للافادة والاقراء ، فمن علم من نفسه الأهلية جاز
له ذلک ، وان لم يجزه احد الخ ، قطب الارشاد
صـ٦٣٣، الخاتمة فی ذکر الاجازة ،ومثله فی امداد
الفتاوی ج ٥صـ ٥٥٣) کتاب السلوک ، فتاوی
حقانيه ج ٢صـ ٨٣)

* * *

Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner